د افغانستان سره د آلمان همکاری
مطبوعاتی خبر

د بدخشان دپاره مصؤون سړکونه: د ۱،۲ میلیونو اوسیدونکو په ګټه د فیض آباد-کشم د سړک ترمیمول

فیض آباد ، بدخشان، د ۱۳۹۲ کال د وری د میاشتې ۱۷مه نیټه – پرون د بدخشان والي په هغه ولایت کې د ۱۰۳ کیلومترو په اوږدوالي د فیض آباد-کشم عمده سړک د کارولو او څارنې او ساتنې ټرون لاسلیک کړ. قراردادي کمپنۍ به د ډبرو د ښوئیدو او د کوکچې د رودـ د اوبو له امله د سړک زیانمن شوې برخې ترمیم کړي او نور ودانیز کارونه لکه د رود د څنډې په اوږدو کې د کلکو استنادي او د سیلابونو په وړاندې د دیوالونو جوړول ترسره کړي تر څو چې په راتلونکي کې د نوموړو زیانونو څخه مخنیوئ وشي. د سیمه ایزې بیخبنا د پراختیا وجهي صندوق (RIDF) چې د المان له خوا تمویلیږي د نوموړې پروژې لګښت چې نږدې ۸۱ میلیونه افغانۍ کیږي، په غاړه اخلي.

بیخبنا د اقتصاد کلي ده. له دې کبله ودانیز کارونه به په بدخشان کې سوداګري پیاوړي کړي او د هغه ولایت اقتصاد ته به وده ورکړي. څه نا څه ۱،۲ میلیونه اوسیدونکي به په نیغه توګه د دې پروژې څخه ګټه پورته کړي.

د بدخشان والي ښاغلي فیصل بیګزاد د مراسمو په ترڅ کې په خپلو وینا کې داسې وویل: "د افغان-المان د همکاری پروګرام په افغانستان کې ډیر فعاله دی. مونږ د هغوی د چارواکو د ملاتړ څخه په تیره بیا په بدخشان کې د داسې ډیرې مهمې او حیاتي پروژې له امله زیاته مننه کوو ". د بدخشان او تخار دپاره د المان اقتصادي کمیشنر ښاغلي ډاګټر فرانک پول زیاته کړه: "مصون سړکونه د افغانستان د اقتصادي پراختیا د پاره ډیر اهمیت لري. له دې کبله، دغه پروژه د بدخشان په پایښتونکي پراختیا کې یوه مهمه پانګونه ده ".

ودانیز اقدامونه به نه یوازې د خلکو تګ راتګ آسانه کړي، بلکه د نوموړي صندوق له خوا د کار په ترڅ کې د عامو ګټو د ریاست د انجینرانو لارښوونه او روزنه به د هغوی سره مرسته وکړي چې داسې مهارتونه په لاس راوړي چې په راتلونکي کې مشابهې پروژې پخپله په یوازې توګه مدیریت کړي، د هغو نه ملاتړ وکړي او هغوی پلي کړي.

د بدخشان د عامه ګټو د ریاست مشر انجینر سید عبدالرؤف عبیدی څرګنده کړه چې د فیض آباد-کشم د عمده سړک فعالیت او څارنه او ساتنه نه یوازې د عامه ګټو د ریاست دپاره بلکه همدارنګه په بدخشان کې د هر وکړي دپاره یو لومړیتوب ګڼل کیده.

د فیض آباد-کشم سړک د فیض آباد-تالقان د عمده سړک یوه برخه جوړوي چې ۱۸۰ کیلومتره اوږدوالی لري. دا سړک د افغانستان شمالي ولایات د هیواد د پایتخت کابل سره نښلوي. دا سړک همدارنګه د "وریښمو د لارې" یوه برخه ده چې پر هغه باندې ترانسپورتي وسیلې د افغانستان او د تاجکستان، ازبکستان، ترکمنستان او ایران د ګاونډیو هیوادونو ترمنځ تګ راتګ کوي.

د سیمه ایزې بیخبنا د پراختیا وجهي صندوق (RIDF) د المان د اقتصادي همکاریو او پراختیا د وزارت (BMZ) له خوا د المان د KfW پراختیایي بانک له لارې تمویلیږي او د Grontmij-GOPA-INTEGRATION د ګډو شرکت له خوا د افغانستان د مالیې، اقتصاد، انرژۍ او اوبو، کلیوالي بیارغونې او پراختیا، پوهنې او عامه ګټو د وزارتونو او بیلابیلو ولایتي نهادونو په ملګرتیا پلي کیږي. نوموړی صندوق په ولایتي کچه د ولایتي پراختیا د کمیټو د مالي منابعو تخصیص برابروي او په دې توګه د ولایتونو د سکتوري ریاستونو وړاندیزونه پلي کوي.

Released by the PR-Unit of the German Cooperation with Afghanistan.
For further information please contact: pr-unit-afghanistan@giz.de